د انگلستان او ویلز د حقوقدانانو

د بشر د حقوقو کمیته

(BHRC)

# د ښځو پرضد تبعیض

افغانســــتان

می ۲۰۰۸ کال

د انګلستان او ویلز د حقوقدانانو
د بشر د حقوقو د کمیټې نشرات
لندن - (BHRC)

# د مطالبو فهرست


اول ـ د بین الدول حقوقو اصول ........................................................ **۵**

(۱) دمدنی ا و سیاسی حقوقو نړیوال تړون............................................. **۵**
(۲) د اقتصادی، اجتماعی ا و فرهنگی حقوقو نړیوال تړون............. **۷**
(۳) دښځو پرضد د تبعیض دله منځه وړلو تړون CEDAW ................. **۹**
(۴) نور مؤسسات............................................................................... **۱۰**
(۵) د تبعیض په له منځه وړلو کې د بین الدول له حقوقو نه استفاده ... **۱۱**

دقوانینو تصویب ..................................................................... **۱۱**
په تړونونو او اساسي قانون باندې استناد ............................... **۱۲**
درپوټ ورکولو میکانیزمونه ............................................... **۱۳**
د خپلخوښی پروتوکولونو تصویبول ..................................... **۱۴**

دوهم ـ مقایسوی قضائی آرا : په اشتغال کې تبعیض ........................... **۱۵**

(۱) د قوانینو تصویبول........................................................................ **۱۵**
(۲) پراساسي قانون او معاهداتو باندې استناد ............................. **۱۷**
(۳) د CEDAW د تړون د خپلخوښي پروتوکول د کارولو موارد ........ **۲۲**

## د ښځو پرضد تبعیض

### اول ــ د بین الدول حقوقو اصول

د تبعیض د له منځه وړلو په هکله احکام په ډیرو نړیوالو اسنادو کې راغلي دي چې له هغو څخه دمدني او سیاسي حقوقو نړیوال تړون د اقتصادي، اجتماعي او فرهنګي حقوقو نړیوال تړون او دښځو پرضد د تبعیض دله منځه وړلو تړون یادولی شو. کله چې یو هیواد له دغو دریو اسنادو څخه یو په خپل هیواد کې توشیح کړي ، نو دا هیواد په تړون کې د خپلو اتباعو مندرجو حقوقو په ساتنه باندی مکلف کیږي. که څه هم هیوادونه دا حق لري چې د توشیح په وخت کې د شروطو او ریزرفیشنونو له لاري ددې تړونونود ځینو احکامو اغیزمنتوب په خپله خاوره کې نفی اویا بدل کړي ،مګر هغه شروط چې د تړون دهدف او موخې سره مغایرت لري د منلو وړ نه دي.

هغه معیارونه چې د بشر د حقوقو په بین المللي تړونونو کې تاکل شویدي د همدې تړونونو د خاصو ادارو له خوا عملي کیږي. دا اداري له هغو کمیټو څخه عبارت دي چې د هر تړون په ساحه کې د خپلواکو ماهرانو او متخصصینو څخه جوړې شویدي. دا اداري د تړون معیارونه له دریو لارو په عمل کې پلي کوي:

- عمومی تبصرې یا تجویزونه: دا د تړون د مشخصو احکامو معتبرتفسیرونه دي
- درپوټونو څیړنه: د اړونده تړون اداري د هغو رپوټونو څیړنه کوي کوم چې په یوه هیواد کې د تړون د تطبیق په هکله د غړو هیوادو ،انجیوګانو او نورو غیردولتي مراجعو له خوا وړاندې شوي وي
- د شکایت او پلټنې میکانیزمونه: شکایتونه په یوه مشخص سند کې د مندرجو حقوقو څخه د سرغړونې په باب د بل هیواد او یا افرادو له خوا وړاندې کیږي، په داسي حال کې چې پلټنې د هغو خاصو اعمالو په هکله ترسره کیږي کوم چې د عامې اندیښنې سبب شوی وی.

(۱) دمدنی ا و سیاسی حقوقو نړیوال تړون

دمدنی ا و سیاسی حقوقو دنړیوال تړون د۲مادې۱فقره او ۳ ماده حکم کوي:

*ددې تړون هر غړی هیواد ژمنه کوي چې په خپله خاوره او قانوني قلمرو کې د ټولو افرادو لپاره د نژاد ،رنګ،جنس،ژبې، مذهب، سیاسی عقیدې او یا بلې عقیدې او همدارازد ټولنیزې او یا ملي منشاء، شتمنی، نسب او یانورو حالتو په پام کې نیولو نه پرته په دې تړون کې د مندرجو حقوقود ره ناوی وکړي او هغه تضمین کړي.*

*ددې تړون غړی هیوادونه ژمنه کوي چې په دې تړون کې د مندرجو ټولو سیاسي او مدني حقوقو څخه په ګټه اخیستلو کې د ښځو او نارینو برابري تضمین شي.*

په دې حقوقو کې د تعذیب اویا ظالمانه ، غیرانساني او تحقیرآمیزه چلند او یا مجازاتو څخه د خلاصون حق (۷ماده) ،د عادلانه محاکمې حق (۱۴ ماده) ، د واده حق (۲۳ ماده) اوپه دولتي چارواو انتخاباتو کې دګډون حق شامل دی.

دمدنی ا و سیاسی حقوقو دنړیوال تړون ۲۲ ماده داسې حکم کوي:

*د قانون په وړاندې ټول افراد برابر دي او له تبعیض نه پرته د مساوي قانوني خوندیتوب مستحق دي. له دې کبله قانون باید د هر ډول تبعیض مخه ونیسي او د افرادو لپاره د نژاد ،رنګ،جنس،ژبې، مذهب، سیاسی او یا بلې عقیدې ، د ټولنیزې او یا ملي منشاء، شتمنی، نسب او یانورو حالاتو پر مبنا دهر ډول تبعیض پرضد اغیزمن او مساوي خوندیتوب رامنځته کړي .*

ددې تړون پلي کول د بشر دحقوقو د کمیټې له خوا د رپوټونو د وړاندې کولو(۴۰ ماده) ، د هیوادو ترمنځ د شکایتونو (۴۱-۴۳ مواد ) او د انفرادي شکایتونو ( دتړون لومړی خپلخوښی پروتوکول) له لارې تر څارنې لاندې نیول کیږي. افغانستان په دې تړون کې خپل غړیتوب د ۱۹۸۳ کال د اپریل په ۲۴ تصویب کړ خو خپلخوښي پروتوکول ئې لا ندی لاسلیک کړی.

د کویټ حکومت دتړون د ۲ او ۳ موادو په هکله یوه تفسیري اعلامیه وړاندې کړیده:

*که څه هم د کویټ حکومت په دې دوو مادو کې د مندرجو ارزښتناکو اصولو سره چې دکویټ د اساسي قانون داحکامو سره په کلي ډول او د هغه د ۲۹ مادې سره په خاص ډول سرخوري، موافقه لري، هغه حقوق چې دې موادو ورته اشاره کړیده باید په هغه چوکاټ کې چې د کویټ دقوانینو له خوا وضع کیږي وکارول شي.*

دبشر دحقوقو کمیټې یادونه وکړه چې دا تفسیري اعلامیه د تړون په وړاندې دکویټ د مکلفیتونو سره مغایرت لري او له همدې کبله کوم حقوقي تاثیر نه لري. دلیل دا ؤ چې د کویټ

په قوانينو کې وضع شوي حدود د ښځو پر ضد د تبعيض له منع کيدو نه حمايت نه کوي. کميټې يادونه وکړه چې د دې هيواد د مدني قانون له مخې ښځې تر ۲۵ کلنۍ مخکې په آزادانه ډول د واده کولو حق نه لري، مگر د ولي له لارې. همدا رنگه د غير کويتي اتباعو د واده کولو حقوق هم محدود دي. له بلې خوا د ښځو او نارينو د واده کولو سن هم توپير لري (د نارينو لپاره ۱۷ او د ښځو لپاره ۱۵). بر سيره پر دې کميټې له دې لوري هم انديښنه درلوده چې په کويټ کې لا تر اوسه هم د ځو ښځو کول مجاز دي، د زنا د جرم جزا د ښځو او نارينو لپاره برابره نه ده او په اصطلاح د غيرت او عزت جرايم تحمل کيږي. کميټې دا څرگنده کړه چې کويټ بايد د ښځو لپاره اغيزمنه برابري په قانون او په عمل کې تضمين، او د تړون د ۲۲ مادې سره سم د هغوی د نه تبعيض حقوق تأمين کړي.

د بشر د حقوقو کميټې دا په گوته کړه چې د ۳ مادې رعايت نه يوازې د حقوقو د ساتنې تدابيرو ته اړتيا لري، بلکه له دې حقوقو څخه د پوره گټې اخيستلو د تأمين لپاره آمار او ارقام پکار دي (۲۸ مه عمومي تبصره ۲۰۰۰ کال). کميټې دا يادونه هم وکړه چې غړي هيوادونه بايد هڅه وکړي چې له عنعنوي، تاريخي، مذهبي يا فرهنگي رسم او رواجونو څخه د ښځو د برابرۍ له حق څخه د سرغړونې او په تړون کې د هغوی د مندرجو حقوقو د نقض لپاره کار وانه خيستل شي. غړي هيوادونه بايد د عنعنوي، تاريخي، فرهنگي او مذهبي رسم او رواجونو د هغو اړخونو په هکله معلومات وړاندې کړي کوم چې د تړون د ۳ مادې رعايت له گواښ سره مخامخ کوي. غړي هيوادونه بايد دا هم څرگنده کړي چې د دې ستونزو د ليرې کولو لپاره ئې کوم اقدامات نيولي او نيسي ئې.

(۲) د اقتصادی، اجتماعی او فرهنگی حقوقو نړيوال تړون

د دې قانون د ۲ مادې ۲ فقره او ۳ ماده دا سې حکم کوي:

*د دې تړون غړي هيوادونه ژمنه کوي چې په تړون کې مندرج حقوق د نژاد، رنگ، جنس، ژبې، مذهب، سياسي يا بلې عقيدې، اجتماعي يا ملي منشاء، شتمنۍ او يا بل هر ډول حالت له تبعيض نه پرته تضمين کړي.*

*د دې تړون غړي هيوادونه ژمنه کوي چې په تړون کې مندرجو ټولو اقتصادي، اجتماعي او فرهنگي حقوقو ته د ښځو او نارينو د مساوي لاسرسنې حق تأمين شي.*

په دې حقوقو کې د کارحق(۲ ماده)، د کار دعادلانه او مساوي شرائطو حق (۷ ماده)، دصنفي اتحادیو د جوړولو حق (۸ ماده)، داجتماعي تأمیناتو او بیمې حق (۹ ماده)، دژوند دلازمو معیاراتو حق (۱۱ ماده)، دجسمي او فکري سلامتیا او روغتیا حق (۱۲ ماده) او دښوونې او روزنې حق (۱۳ ماده) شامل دي.

ددې تړون پلي کول د اقتصادي، اجتماعي او فرهنګي حقوقو د کمیټې له خوا د رپوټونو د وړاندې کولو (۱۲ ماده) له لارې ترسره کیږي. دا کمیټه هیله لري چې په راتلونکې کې وکولی شي د افرادو شکایتونه هم وڅیړي. ددې تړون د یوه خپلخوښي پروتوکول مسوده تر کار لاندې ده. افغانستان دا تړون د ۱۹۸۳ کال داپریل په ۲۴ لاسلیک کړیدی.

ځینو هیوادونو په دې تړون کې د تبعیض د منع کولو د احکامو په هکله ځینې ریزرفیشنونه (شرطونه) وضع کړیدي:

- بنګله دیش اعلام کړه چې *"د بنګله دیش دخلکو جمهوریت به د تړون ۲ او ۳ مادې تر هغه ځایه چې دښځو او نارینو دبرابرۍ سره تړاولري داساسي قانون او په خاص ډول د هغو اقتصادي اړخونه د میراث دقانون دا ړونده احکامو سره سم پلي کړي ".*
- مصر اعلام کړه چې *"دا سلامي شریعت دا حکامو په نظر کې نیولو سره او ددې حقیقت پر اساس چې هغوی دتړون سره دضمیمه شوي متن له محتویاتو سره تناقض نه لري، مونږ دا تړون منو او هغه حمایت او توشیح کوو ..."*
- کویټ څرګنده کړه چې *"که څه هم د کویټ حکومت په دې دوو مادو کې د مندرجو ارزښتناکو اصولو سره چې د کویټ د اساسي قانون دا حکامو سره په کلي ډول او د هغه د ۲۹ مادې سره په خاص ډول سر خوري، موافقه لري، هغه حقوق چې دې موادو ورته اشاره کړیده باید په هغه چوکاټ کې چې د کویټ دقوانینو له خوا وضع کیږي وکارول شي."*

دا شرطونه د فرانسې (دبنګله دیش په هکله)، فنلند، المان، ایتالیا، ناروې او سویدن (دکویټ په هکله) له خوا وغندل شول ځکه چې هغه د تړون داهدافو او مرام په اړه ددې هیوادونو مکلفیت ترشک لاندې راولي.

## (۳) د ښځو پرضد د تبعیض دله منځه وړلو تړون CEDAW

ددې تړون ټوله پاملرنه د ښځو پرضد تبعیض ته اړول شویده. ددې تړون لومړۍ ماده تبعیض داسې تعریفوي:

*هر ډول تجرید ،استثنا او یا محدودیت چې د جنس پر بنسټ وي او هدف یا تاثیر ئې پر ښځو باندې د هغوی له بشري حقوقو او په سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو، کلتوري، مدني او نورو ساحو کې د اساسي آزادیو له درلودلو، استفادې او په رسمیت پیژندنې نه محروم او بې برخې کول وي.*

دې تعریف هم د تبعیض اغیزو او هم د هغه موخو ته اشاره کړیده د حکومتي اقداماتو پایلو ته او ددې اقداماتو اهدافو ته پاملرنه راګرزوي. برسیره پر دې دا تعریف یوازې په هغو تبعیضي فعالیتونو پورې محدود نه دی کوم چې د دولت له خوا او یا دهغو کسانو له خوا چې دقانون تر نامه لاندې عمل کوي تر سره کیږي. که چیرې په تعریف کې د "نورو ساحو کې "برخې ته پاملرنه وشي نو دا به د تبعیض تعریف ته زیاته پراختیا ورکړي.

۲ ماده حکم کوي:

*"غړي هیوادونه د ښځو پرضد د تبعیض ټولې بڼې غندي او موافقه کوي چې له ټولو لازمو امکاناتو څخه په ګټه اخیستلو سره بې له ځنډه د تبعیض د له منځه وړلو کړنلاره غوره کوي او دی هدف ته د رسیدو لپاره لاندې ګامونه اوچتوي:*

أ. *په ملي اساسي قوانینو او نورو اړونده حقوقي اسنادو کې د ښځو او نارینو د حقوقو د مساوات اصل شاملول؛*

ب. *له نارینو سره د ښځو د مساوي حقوقو د خوندي ساتنې لپاره د قانوني وسیلو ایجادول او د هر ډول تبعیضي عمل په وړاندې له ښځو څخه د باصلاحیته محکمو او دولتي ادارو په مرسته ساتنه کول؛*

ج. *د خاصو قوانینو د تصویبولو او د تحریمونو په شمول د نورو تدابیرو د نیولو په مرسته د ښځو پر ضد د ټولو تبعیضونو منع کول؛*

د. *د عامه ادارو او دولتي ارګانونو له خوا د ښځو پرضد د تبعیضي اعمالو مخنیوئ؛*

ه. *د افرادو، سازمانونو او موسسو له خوا د ښځو پر ضد د تبعیض له منځه وړل؛*

و. *د هغو جاري قوانينو، مقرراتو، دودونو او رواجونو له منځه وړل او يا هغوی ته تغير ورکول په کوموکې چې د ښځو پر ضد تبعيض موجود وي؛*

ز. *دټولو هغو جزائي پريکړو لغوه کول په کوموکی چې د ښځوپر ضد تبعيض شوئ وي".*

۳ مه ماده له غړو هيوادونو نه غوښتنه کوي چې *"د ښځو د پوره ودې او تکامل لپاره... لازم تدابير ونيسي".*

د ۴ مادې۱ فقره غړو هيوادو ته صلاحيت ورکوي چی *"د ښځو او نارينو د برابرئ د پروسې د ګړندي کولو لپاره مؤقت خاص تدابير ونيسي، دا تدابير بايد له هغه وروسته چې د ښځو او نارينو د برابرئ موخه تر سره شي متوقف شي. "*

۵ ماده غړو هيوادونو ته صلاحيت ورکوي ترڅو *"ټول لازم تدابير ونيسي (الف) چې د ښځو او نارينو تر منځ د چلند ټولنيزو او کلتوري نمونو ته داسې بدلون ورکړي تر څو هغه تعصبات او رسم او رواجونه د کومو له مخې چې يو جنس پر بل لوړ او يا ټيټ منل شوئ وي له منځه ولاړ شي"*

د CEDAW دتړون دپلي کولو څارنه ددې تړون د کميټې له خوا د رپوټونو په سپارلو (۱۲ ماده)، تجويزاتو (۲۱ ماده)، د انفرادي شکايتونو (خپلخوښې پروتوکول) او څيړنو د طرزالهمل (خپلخوښی پروتوکول) له لارې ترسره کيږي. افغانستان د ښځوپرضد دتبعيض دله منځه وړلو تړون د ۲۰۰۳ کال د مارچ په ۵ نيټه لاسليک کړی دی. ډيرو هيوادونو ددې تړون د خاصو احکامو په هکله شرطونه وړاندی کړيدي. افغانستان دا شرطونه نه دي وړاندې کړي. افغانستان ددې تړون خپلخوښی پروتوکول هم نه دی لاسليک کړی.

(۴) نور مؤسسات

د بشر دحقوقو شورا چې په ۲۰۰۶ کال کې د بشر دحقوقو د کميسيون پرځای جوړه شوه، ۴۷ غړي هيوادونه لري چې د هغو دريمه برخه هرکال د ملګرو ملتونو دعمومي غونډې له خوا انتخابيږي. دا شورا د ځينو هيوادونو په ټينګار سره چې د *"دوه ګوني چلند ...او د قدرتمندانو دنه مجازات کيدو"* دله منځه وړلو غوښتنه ئې کوله د عمومي غونډې د ۶۰/۲۵۱ (۲۰۰۶) نمبر پريکړه ليک له

مخې جوړه شوه.[۱] ددې شورا د منظمو او پراخو څېړنو میکانیزم د هرهیواد دبشري حقوقو د وجائبو او مسئولیتونودترسره کیدلو دارزونې غوښتنه کوي.مګر **۱۵۰۳** نمبر پخوانی طرزالعمل د *"بشر دحقوقو او اساسي آزادیو د مکررو او ډیرونا ورو او په ثبوت رسیدلو سرغړونو"* لپاره په خپل قوت پاتې دی[۲]. برسیره پردې دبشر دحقوقو د شورا یوه مشورتي کمیټه هم جوړه شویده چې ۱۸ تنه مستقل کارپوهان لري او دضرورت سره سم د شورا دکار لارښوونه کوي.

دښځو دموقف لپاره دملګرو ملتونو کمیسیون د اقتصادي او اجتماعي شورا یوکاري کمیسیون دی. دا شورا (ECOSOC) دملګرو ملتونو یو اساسي ارګان دی چې دبشر دحقوقو ددره ناوي او دهغود سرغړونو په هکله دغبرګون او همدارازپه دې هکله د عمومي معلوماتو دسطحې دلوړولو په برخه کې تر ټرونې موسسو خورازیات صلاحیت لري. دا کمیسیون د **۴۵** هیوادو له استازو څخه جوړ شویدی چې هرکال یو ځل دلسو ورځو لپاره غونډه کوي ترڅو دجنسیت دبرابرۍ په هکله پرمختګ وارزوي، ننګونې راوسپړي، نړیوال معیارونه وټاکي او په ټوله نړۍ کې د جنسیت دبرابرۍ او دښځو د پرمختګ په لاره کې مشخص سیاستونه وړاندې کړي.ددې کمیسیون دکار محصول د ټاکل شوو موضوعاتو په هکله هغه "منل شوې نتیجې" دي کومې چې د الویت لرونکو موضوعاتو په هکله دولتونو، بین الدول موسسو او ادارو او نورو ذیعلاقه مراجعو ته مشخص تجویزات ورکوي. دا تجویزات باید په بین المللي، ملي، منطقوي، ناحیوي او سیمه ایزو ساحو کې عملي شي. پر دغو "منل شوو نتیجو" سربیره داکمیسیون د ځینو مسائلو په هکله پریکړه لیکونه هم تصویبوي، لکه د فلسطیني ښځو حالت او له هغوی سره مرسته او دایدز په ناروغي اخته ښځې او نجونې. د کمیسیون وروستی رپوټ دتصویب لپاره د ملګرو ملتونو اقتصادي او اجتماعي شوراته وړاندې کیږي.

**(۵)** دتبعیض په له منځه وړلو کې دبین الدول له حقوقو نه استفاده

دقوانینو تصویب

غړي هیوادونه کولی شي په نړیوالو تړونونو کې د هغوی مندرج مکلفیتونه په خپلو کورنیو قوانینو کې شامل کړي او له دې لارې دهغوی دپلي کیدو لاره اواره کړي. صریح قوانین کولی شي د تبعیض، ځورونې او غچ اخیستنې مسائل تر پوښښ لاندې راولي.

---

۱ UN Doc HR/CN/۱۱۰۷ (۱٤ March ۲۰۰۵)

۲ Economic and Social Council Resolution ("ECOSOC") ۱۵۰۳ (XLVIII) (۱۹۷۰)

په تړونونو او اساسي قانون باندې استناد

غړي هیوادونه کولی شي په محکمو کې خپلو بین الدول مکلفیتونو ته مراجعه وکړي، حتی که چیرې دا مکلفیتونه ئې په کورنیو قوانینو کې شامل کړي هم نه وي. دولت کولی شي له قاضیانو څخه وغواړي چې په دایمي توګه د افغانستان د اساسي قانون له حکم سره سم د کورنیو قوانینو مکلفیتونه له نړیوالو تعهداتو سره همغږه کړي.

افراهیم د پاستوری په وړاندې، د تانزانیا عالي محکمه، د دوسیې ګڼه: ۸۷ Int. L. Rep. ۱۰۲ (۱۹۹۲)

یوې تانزانیایی میرمنې ته د هغې د پلار د وصیت له مخې د قوم یوه ټوټه ځمکه په میراث ورسیده او هغې دا ځمکه په یو چا چې د دې له قوم څخه نه ؤ خرڅه کړه. د هغې ورار ه ابتدائیه محکمې ته عرض وکړ چې د ځمکې خرڅلاو قانوني نه دی ځکه د "حیا" د عرفي قانون له مخې ښځې حق نه لري چې د قوم ځمکه خرڅه کړي. ابتدائیه محکمې د ځمکې د خرڅلاو معامله شنډه کړه مګر مرافعه محکمې دا فیصله لغوه کړه. ورار ه د تانزانیا عالي محکمې ته مراجعه وکړه.

عالي محکمې دا جوته کړه چې د عرفي قانون له مخې ښځه کولی شي د قوم ځمکه په میراث واخلي، مګر هغه خرڅولی نه شي. محکمې دا هم څرګنده کړه چې:

(۱) تانزانیا د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال تړون لاسلیک کړیدی چې د هغه د ۲۶ مادې له مخې د جنسیت پر اساس تبعیض منع دی؛
(۲) تانزانیا د ښځو پرضد د تبعیض د له منځه وړلو تړون لاسلیک کړی دی چې د هغه له مخې د ښځو پرضد تبعیض منع دی؛
(۳) تانزانیا د اساسي قانون د ۹ مادې د (۱) فقرې په (و) بند کې د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه منلې ده چې د هغې د ۷ مادې سره سم د جنس پر اساس تبعیض منع دی، او بالاخره
(۴) د هیواد د ۱۹۷۷ کال د اساسي قانون د ۱۳ مادې د (۴) فقرې له مخې د ښځو پرضد تبعیض غیرقانوني دی.

د اساسي قانون د پنځمې برخې (نهائي، انتقالي او موقتي احکام) د لومړۍ فقرې له مخې د ۱۹۸۴ کال ۱۲ نمبر سند حکم کاوه چې محکمې باید د عرفي قوانینو په شمول ټول موضوعه قوانین د اساسي قانون مطابق تفسیر او تعبیر کړي. له همدې کبله محکمې پریکړه وکړه چې

اړونده عرفي قانون باید تعدیل او تصحیح شي ترڅو ښځې او نارینه وکولی شي د قوم د ځمکې په میراث اخیستلو او خرڅولو کې مساوي حقوق ولري.

د قضائي چلند داډول امکانات د افغاني قاضیانو لپاره هم شته او دلایل یې دا دي:

(۱) افغانستان هم د مدنی او سیاسی حقوقو تړون لاسلیک کړی دی؛
(۲) افغانستان د ښځو پرضد د تبعیض د له منځه وړلو تړون هم لاسلیک کړی دی ؛
(۳) د افغانستان د اساسي قانون د ۷ مادې (۱) فقره حکم کوي چې:

*"دولت د ملګرو ملتو د منشور، د بین الدول د معاهدو د نړیوالو میثاقونو چې افغانستان د هغو سره تړاولري، او د بشري حقوقو د نړیوالې اعلامیې رعایت کوي."*

(۴) د افغانستان د اساسي قانون د ۲۲ ماده حکم کوي:

*"د افغانستان د اتباعو ترمنځ هر راز تبعیض او امتیاز منع دی د افغانستان اتباع که ښځې وي یا نارینه د قانون په وړاندې مساوي حقوق او وجائب لري."*

پورتني احکام د یوې محکمې لپاره په کافي اندازه صلاحیت ورکوي چې موجود عرفونه او رسم او رواجونه داسې تعبیر او تفسیر کړي چې د افغانستان د بین الدول مکلفیتونو سره توافق ولري.

د رپوټ ورکولو میکانیزمونه

ټول غړي هیوادونه مکلف دي په منظم ډول د هر تړون اړونده کمیټې ته د تړون د پلي کولو د څرنګوالي په هکله رپوټ ورکړي. غړي هیوادونه باید له تړون سره ترپیوستون وروسته په لومړیو کلونو کې هر کال، او وروسته د کمیټې له غوښتنې سره سم خپل رپوټونه وړاندې کړي. کمیټه د هر رپوټ تر ارزونې وروسته خپلې اندیښنې او تجویزونه د "وروستنیو مشاهداتو" په توګه هغه هیواد ته استوي. کیدای شي هغه هیوادونه چې په تړون کې غړیتوب نه لري هم په دې پروسه کې ګډون وکړي. افغانستان تراوسه پورې د پورتنیو دریو تړونونو په هکله کوم رپوټ نه دی سپارلی.

د خپلخوښې پروتوکولونو تصویبول

هر فرد چې په تړون کې د مندرجو حقوقو څخه ئې د دولت له خوا د سرغړونې ادعا ولري کولی شي خپله اطلاعیه یا شکایت مربوطې کمیټې ته وسپاري. د شکایتونو او اطلاعیو د منلو او د مراحلو د تیرولو شرائط په بیلابیلو تړونونو کې یو له بله توپیر لري. د CEDAW د تړون په هکله طرزالعمل په دې ډول دی:

- شکایتونه باید کتبي وي او نوم او امضاء ولري (۳ ماده). دریم کس هم کولی شي د افرادو په استازیتوب شکایتونه وړاندې کړي، په دې شرط چې د هغوې کتبي موافقه یې اخیستې وي او یا دا چې پخپله د دې کار توان ونه لري.
- ټولې موجودې کورنۍ لارې چارې باید لټول شوې وي او دا شکایت باید د کمیټې او یا کومې بلې نړیوالې پلټنې له خوا نه وي ارزول شوی او یا د هغوی تر څیړنې لاندې نه وي (۴ ماده).
- کمیټه کولی شي مجنی علیه ته د رغیدونکي تاوان د رسیدو د مخنیوي لپاره له غړي هیواد سره په بیړنۍ توګه تماس ونیسي او د ژغورونکو اقداماتو د نیولو غوښتنه وکړي (۵ ماده).
- کمیټه اطلاعیه یا شکایت په محرمه توګه غړي هیواد ته استوي او شپږ میاشتې وخت ورکوي ترڅو هغه هیواد د شکایت په هکله خپل توضیحات په کتبي توګه وړاندې کړي ( ۶ ماده).

د اطلاعیې طرز العمل او د فورمې نمونه د تړون د انترنت په پاڼه کې په انګلیسی[۳] او عربی[۴] ژبو موجود دي.

د CEDAW د تړون د خپلخوښې پروتوکول ۸ــــ۱۰ مادې د اړونده کمیټې لپاره د غړو هیوادونو په هکله د بیړنیو پلټنو په باب اساسي طرزالعمل داسې بیانوي:

- طرزالعمل هغه مهال پیل کیږي چې کمیټه د یوه غړي هیواد له خوا په تړون کې د مندرجو حقوقو څخه د بیابیا سرغړونې په هکله مؤثق اطلاعات ترلاسه کړي.
- په لومړي سر کې کمیټه د مشاهداتو د وړاندې کولو له لارې غړي هیواد ته بلنه ورکوي چې د اطلاعاتو په ارزونه کې برخه واخلي. کمیټه د غړي هیواد له خوا د وړاندې شوو

[۳] http://www.un.org/womenwatch/daw/cedaw/rules/part۳/part۳E.html و http://www.un.org/womenwatch/daw/cedaw/protocol/modelform-E.PDF.

[٤] http://www.un.org/womenwatch/daw/cedaw/rules/part۳/part۳A.html و http://www.un.org/womenwatch/daw/cedaw/protocol/modelform-A.PDF.

مشاهداتو او همدارازد نورو اړونده معلوماتو له مخې کولی شي له خپلو غړو څخه څو تنو ته دنده وسپاري چې محرمې پلټنې وکړي او کميټې ته د هغو په هکله رپوټ وړاندې کړي.

- د CEDAW د تړون دې طرزالعمل له اړونده هيواد ذخه کتنه هم تاکلې ده، کومه چې د هغه هيواد په موافقې سره ترسره کيږي (۸ ماده).
- کميټه د خپلو غړو د پلټنو له څيړلو وروسته خپل نتايج او د هغو ترڅنګ لازمې تبصرې يا پيشنهادات/تجويزات غړي هيواد ته سپاري. د CEDAW عرزالعمل د غړي هيواد لپاره شپږ مياشتې موده ټاکلې ترڅو په خپلو مشاهداتو سره د کميټې څيړنو، تبصرو او پيشنهاداتو ته ځواب ورکړي او که غوښتل شوي وي، نو د پلټنې په هکله د نيول شوو اقداماتو په هکله معلوملت وړاندې کړي (۹ ماده).
- کميټه کولی شي له غړي هيواد سره په موافقه ددې پريکړه وکړي چې دا هيواد د خپلو اقداماتو نتايج له خپل کلني رپوټ سره يوځای کميټې ته وسپاري (۱۳ ماده).

په دواړو حالاتو کې دا طرزالعمل محرم دی او د غړي هيواد د همکاري جلبول حتمی دي.

دوهم ـ مقايسوی قضائی آرا: په اشتغال کې تبعيض

(۱) د قوانينو تصويبول

په کار کې د تبعيض په هکله د انګلستان ترټولو مهم حقوقي سند هماغه د ۱۹۷۵ کال د جنسي تبعيض قانون "۱۹۷۵ SDA" دی. ددی قانون احکام د استخدام، ترفيع، تبديلی، روزنې، برطرفی او نورو مواردو په هکله دي.

په دې قانون کې د ښځو پرضد درې ډوله تبعيضدنه تعريف شويدي:

(۱) مستقيم تبعيض هغه دی چې له يوه کارګر سره د هغه د جنسيت له امله د نورو په پرتله ناوړه چلند کيږي، د مثال په توګه يوې ميرمنې ته چې لازم لياقت هم لري يو کار نه ورکول کيږي، په داسې حال کې چې هماغه کار يوه نارينه ته چې معادل لياقت لري ورکول کيږي.

(۲) غير مستقيم تبعيض هغه دی چې داسي يو خنثی او بي تبعيضه حکم، معيار، دود، ضرورت يا شرط کيښودل شي کوم چې ديوه جنس کارکوونکي د بل جنس په پرتله په

ناوړه حالت کې واقع کړي، د مثال په ډول په اونۍ کې اوه ورځې او دورځې ۱۴ ساعته کار کول.

(۳) قرباني کول(غچ اخیستل) هغه دي چې له یوې کارګرې سره د نورو په پرتله ناوړه چلند وشي ځکه چې هغې پخوا د تبعیض په هکله شکایت کړی ؤ، یا یې د بلې کارګرې لپاره شاهدي ویلې وه او یا یې د خپل حق په باب کوم بل عمل ترسره کړی ؤ.

دهمدې قانون په ۴(الف) برخه کې ځورونه داسې بیان شویده:

- *" نه غوښتل شوی عمل "* چې د یوې ښځې د جنسیت له کبله ترسره شوی وي، یا
- *" نه غوښتل شوی لفظی، غیرلفظی یا فزیکي عمل چې جنسي اړخ ولري"*

*"کوم چې د [یوې ښځې] د عفت د ترپښو لاندې کولو موخه یا اغیزه ولري، یا د هغې لپاره د یوې ویرونکی، خصمانه ، تحقیرآمیزه او سپکوونکې فضا درامنځته کولو سبب شي."*

په قانون کې کیدای شي د کارفرما د عمل انګیزه د منلو وړ وي او یا هم نه وي. په انګلستان کې دا دمنلو وړ نه ده چې کارفرما د خپل شخصي تعصب له مخې له ښځې سره ناوړه چلند وکړ، یا هغه د ښځو او نارینو په هکله د موجودو کلیشه ایزو معتقداتو له مخې عمل کړیدی او یا په ناخوداګاه توګه یې دا کار کړیدی. مهمه دا ده چې له یوې ښځې سره د هغې دجنسیت له امله ناوړه چلند شویدی.ددې حقوقي چلند ګټه داده چې دجنسي تبعیض ثابتول آسانوي.

د کارفرما لپاره د دفاعیې دوه ډوله موجود دي:

(۱) واقعی وظیفوی ضرورتونه چې په خاصو حالاتو کې استثنأ وي.
(۲) د هرې قضیې واقعبینانه ارزونه

په واقعی وظیفوی ضرورتونو کې لاندې حالات شامل دي چیرې چې یوه دنده یوازې نارینه ته سپارله کیږي:

- د یوه کارد اصالت له کبله، لکه یو هنرمند ،ممثل اویا هم د فزیولوژیکي دلایلوله مخې ؛
- د حرمت او محرمیت د ساتنې په دلیل په داسې حالاتو کې چې کار په حفظ الصحوي ځایونو(حمامونه) کې وي او یا د لوڅو افرادو سره د فزیکي تماس احتمال موجود وي؛
- کله چې کار په یوجنسه موسسه کې وي او یا یوه داسې اداره وي چیرې چې له افرادو (ناروغانو) څخه مراقبت او پالنه کیږي.

په واقعبینانه ارزونه کې باید دا څرګنده شي چې نیول شوی اقدام د ځینو عیني ضرورتونو پر اساس لکه حفظ الصحه، مصئونیت... موجه دی او داچې دا دضرورت درفع کولو تر ټولو مناسبه لاره ده.

قانون کولی شي مثبت اقدامات وهڅوي او له تبعیض څخه دښځو په ګټه کار واخلي. په داسې توګه چې یو کارفرما دا ثابته کړي چې دپخوا په نسبت ئې دښځو کارګرانو شمیر زیات شویدی. داډول احکام د هغو خاصو موقتو تدابیرو سره ورته والی لري کوم چې د CEDAW د تړون په ۴ ماده کې اټکل شویدي.

(۲) پراساسي قانون او معاهداتو باندې استناد

د ډیرو هیوادونو کورنیو محکمو په اشتغال او کار کې د تبعیض په بیلابیلو قضیو کې د CEDAW د تړون په احکامو استناد کړیدی.

په دې هکله کولی شو د خاصو موقتو تدابیرو د نیونې په هکله د تړون ۴ مادې ته اشاره وکړو. همدا راز همدې تړون ۱۱ ماده داسې حکم کوي:

*غړي هیوادونه په ټولو لازمو اقداماتو لاس پورې کوي ترڅو په اشتغال کې د ښځو پرضد هر ډول تبعیض له منځه ولاړشي او دښځو او نارینو د برابرۍ داصل پر اساس هغوی ته مساوي حقوق تضمین شي، په خاصه توګه په لاندې مواردو کې:*

*أ) په کار د اشتغال حق د بشر د ټولو افرادو نه بېلیدونکی حق دی؛*
*ب) د کار موندلو په وخت کې د مساوي امکاناتو نه دګټې اخیستنې حق؛*
*ج) د مسلک او کار د غوره کولو ازاد حق، دترفیع حق، دکار د خوندیتوب او د اشتغال له ګټو نه د برخه اخیستنې حق، د لوړو مسلکي زده کړو او دوامداره زده کړو په شمول د مسلکي روزنې او بیا روزنې حق؛*
*د) د مساویانه ارزښت لرونکي کار په مقابل کې د مساویانه معاش او مساویانه ګټو او مساویانه چلند حق او همدا راز د کار د کیفیئت د ارزیابۍ په وخت کې دمساویانه قضاوت حق؛*
*ه) د ټولنیزو بیمو څخه د ګټې اخیستنې حق، په تیره بیا د تقاعد، بیکارۍ، ناروغۍ، کمزورۍ، زړښت او د معلولیت په نورو حالاتو کې او همدا راز له استحقاقي رخصتۍ څخه د استفادې حق؛*

و) د کار په چاپیریال کې د روغتیا او خوندیتوب حق او د زیږولو او مورګلوی د وظیفې د خوندیتوب حق؛

۲- د ښځود واده او امیندواری (حاملګی) پر اساس د تبعیضونو د مخنیوي او د هغوی د کار د اغیزمن حق د تضمینولو لپاره غړي هیوادونه لاندې اقدامات نیسي:

أ) د حاملګی یا د ماشوم د زیږیدنې د رخصتی په دلیل له کاره د ایستلو او یا د مدني حالت پر اساس د تبعیض له مخې د برطرفی او یا د همدې دلایلو پر مبنی د مجازاتو د ټاکلو منع کول؛
ب) د مورګلوی د رخصتی د اجازې ورکول بیله دې چې پخوانی کار، رتبه او سابقه یا ټولنیزې ګټې له لاسه ورکړي؛
ج) د هغو ټولنیزو خدماتو تشویقول کوم چې پلرونو او میندو ته اجازه ورکوي کورني مسئولیتونه له اشتغالي فعالیت سره هم غږه کړي، په خاصه توګه د وړکتونونو د شبکو د جوړولو له لارې؛
د) هغو حامله ښځو ته د ژغورنې د خاصو امکاناتو برابرول د کومو روغتیا ته چې د کار شرائط ګواښ جوړوي.

۳- په دې ماده کې یاد شوي حمایتي قوانین باید په نوبتي ډول د علمی او تکنولوژیکی پوهې له پرمختګ سره همګامه شي او د ضرورت په صورت کې اصلاح، لغوه یا تمدید شي.

کمیټې په ۱۹ نمبر عمومي تبصره کې داسې څرګنده کړیده:

۱۷. په اشتغال کې برابري هغه وخت زیانمنه کیږي چې ښځې تر جنسي تشدد لاندی راشي لکه د کار په ځای کې جنسي ځورونه... جنسي ځورونه نه غوښتل شوي جنسي اعمال دي لکه تماس او لاس اچونه، جنسي تبصرې، د لوڅو انځورونو ښودل او په خبرو یا اعمالو سره جنسي غوښتنې.
۱۸. دا ډول چلند کیدای شي تحقیرآمیزه وي او د ښځو صحت او مصئونیت ضرر ورسوي. کـه چیرې یوه ښځه د منطقي استدلال له مخې دې نتیجې ته ورسیږي چې د هغې اعتراض کیدای شي د اشتغال په چارو لکه استخدام او ترفیع ناوړه اغیزه وکړي او په کار کې د یوه نه زغمونکي چاپیریال د رامنځته کیدو سبب شي، دا پخپله د تبعیض یو حالت دی.

٢٤. *(م) فقره: د شکایتونو اغیزمن طرزالعملونه او د تاوان ورکولو لاري چاري دي برابري شي.*

د استرالیا د ښاروالیو د کارکوونکو اتحادیه، د اروپا دعدالت محکمه (فبروری، کال ۱۹۹۱)

ددریو اتحادیو په اداره کې د اصلاحاتو لپاره د ښځینه کارکوونکو د ګډون د زیاتوالي پریکړه ددې سبب شوه چې یوه نوی څوکۍ جوړه شي کومې ته چې یوازې ښځو درای ورکولو حق درلود. د استرالیا د صنعتي چارو کمیسیون غوښتل وپوهیږي چې دې بدلونونو له دوو اساسي حقوقي منابعو سره سمون درلود او که نه. د استرالیا د جنسي تبعیض د قانون ۱۹ ماده یوې اداري یا سازمان ته اجازه نه ورکوي چې خپل غړي د جنس پر اساس تر تبعیض لاندې راولي. مګر د همدې قانون ۳۳ مادې هغو اقداماتو ته چې موخه ئې اشخاصو ته دهغوی دجنس یا مدني حالت له امله او یا دحامله ښځو لپاره د علي السویه امکاناتو برابرول وي، استثنا منلې ده. د ښځو پر ضد دتبعیض دله منځه وړلو دتړون د ۴ مادې (۱) فقرې په دې هکله د خاصو موقتي تدابیرو اټکل کړیدی.

کمیسیون یادونه وکړه چې د استرالیا د قانون له موخو څخه یوه هم د CEDAW دتړون پلي کول دي (دهغه قانون د ۳ مادې (الف) فقره)، او دهمدې قانون په ۳۳ مې مادې کې د CEDAW دتړون ۴ مې مادې انعکاس موندلی دی چې دښځو او نارینو ترمنځ دبرابرۍ دچټکتیا لپاره د خاصو مؤقتو تدابیرود نیولو اټکل کوي.لکه څنګه چې په اړونده مؤسسو کې دښځو شمیر کم ؤ، نو دا اصول کولی شي داذهنیت چې ګواکې اتحادیه دښځو په تشویقولو کې برخه نه اخلي، بدل کړي، د پخواني تبعیض اغیزې اصلاح او دراتلونکې برابرۍ دسطحې په لوړوالي کې مرسته وکړي. له همدې کبله د هغه قانون د ۳۳ برخې مثبته ارزونه وشوه او دا اصل قانوني وپیژندل شو.

ویشاکا د راجستان په وړاندې، دهند ستره محکمه (آګست، کال ۱۹۹۷)

عرض کونکې چې دایالتي پرمختیا د پروګرام یوه کارکوونکې وه له دې کبله چې دراجستان په ایالت کې ئې د ماشومانو د کوزدې پرضد فعالیت کاوه د یوې ډلې له خوا ورسره اجباري زنا ترسره شوه.له دې پیښې نه مخکې هغې خپل دولتي آمر ته د جنسي ځورونې په هکله شکایت کړې ؤ.مګر دې ایالت دجنسي ځورونې په هکله هیڅ ډول فعاله پالیسي نه درلوده او مقاماتو دهغې شکایت ته پاملرنه ونه کړه. هغې او د انجیوګانو یوې ډلې د اساسي قانون د ۳۲ مادې سره سم دهند سترې محکمې ته یو عامه ډله ایز عرض وړاندې کړ چې په هغه کې د اساسي قانون د ۱۴ مادې (دقانون په وړاندې مساوات)، ۱۵ مادې (دجنسیت پراساس د تبعیض منع)،

۱۹ مادې(د هرډول مسلک، موقف، شغل او کسب د غوره کولو حق) او ۲۱ مادې(د شخصي آزادۍ او ژوند مصئونيت) څخه د سرغړونو يادونه شوې وه. د جنسي ځورونې په هکله د کورنيو قوانينو د نشتوالي له امله عارضينو له سترې محکمې نه غوښتنه وکړه چې د کارفرمايانو لپاره د کارګرانو د جنسي ځورونې د شکاياتو د اوريدلو په هکله التزامي لارښودونه وضع کړي.

محکمې دا جوته کړه چې جنسي ځورونه د اساسي قانون په ۱۵، ۱۴ او ۲۱ مادو کې د مندرجو حقوقو څخه سرغړونه ده. د عارضې تجربې کارګروښځو ته ممکن ګواښونه، د جنسي ځورونو ناوړه عواقب او د قانوني مصئونيت د نشتوالي په حالاتو کې د دې ډول اعمالو پرضد د خونديتدب ضرورت څرګند کړ. د اساسي قانون د ۳۲ مادې له مخې محکمه مکلفه وه چې د يادو شوو حقوقو د ساتنې لپاره او د کورنيو قوانينو د نشتوالي په دليل، نړيوالو نورمونو او اسنادو ته د جنسيت د برابرۍ د تفسير لپاره مراجعه وکړي او په انساني کرامت سره د کار کولو حق خوندي کړي. هند د ۱۹۹۳ کال د جون په ۲۵ نيټه د CEDAW تړون توشيح کړ. محکمې د دې تړون ۱۱ ماده او ۱۹ نمبر عمومي تبصره، او همدا راز د بيجنګ په څلورم نړيوال کنفرانس کې د هند د دولت تعهدات د کومو له مخې چې هند ژمنه کړې وه د ښځو په باب يو ملي سياست پلې کړي او د بيجنګ د پلتفورم د عملي کولو د څارنې لپاره يو ميکانيزم جوړ کړي، په نظر کې ونيول. محکمې دا جوته کړه چې په اساسي قانون کې د مندرجو اساسي حقوقو موضوع او معنی په کافي اندازې سره پراخه دي او کولی شي د جنسيت د برابرۍ او همدارنګه د جنسي ځورونې د مخنيوي ټول اړخونه احتوا کړي. محکمې پريکړه وکړه چې د جنسي ځورونې د تعريف او د جنسي ځورونې د مخنيوي په هکله د کارفرمايانو او نورو مسئولينو لپاره د ساتير وضع کړي.

کورنيو محکمو سيمه ايزو تړونونو مقايسوي احکامو ته هم مراجعه کړيده.

<u>کرايل د آلمان د فدرالي جمهوريت په وړاندې، د اروپا د عدالت محکمه (جنورۍ، کال ۲۰۰۰)</u>

يوې ميرمنې په وسله والو ځواکونو کې د وسلو د الکترونيکي مراقبت لپاره د کار درخواست وکړ. د هغې درخواست په دې دليل رد شو چې ښځې د مقرراتو له مخې په محاربوي پوستونو کې نه ګمارل کيږي، هغوی يوازې په طبي او د نظامي موسيقۍ وظايف ترلاسه کولی شي. عارض د آلمان اداري محکمې ته شکايت وکړ چې يوازې د جنسيت له امله د هغې د درخواست ردول د اروپا د ټولنې د قانون او په خاصه توګه د EEC/۷۲/۲۰۷ دستور د ۲ مادې سره مغايرت لري. دا دستور د "علی السويه چلند دستور" په نامه هم ياديږي او دوهمه ماده ئې د اشتغال، مسلکي زده کړو، ارتقأ او د کار د شرائطو په برخه کې د ښځو او نارينو لپاره د مساوي چلند د

اصل پر مبنا ولاړه ده. محکمې دا قضیه د ابتدائي غور لپاره د اروپا دعدالت محکمې ته وړاندې کړه ترڅو فیصله وکړي چې آیا دآلمان د قانون احکام چې ښځې په محاربو قطعاتو کې له خدمت نه منع کوي د اروپایي ټولنې دقانون مخالف ده او که نه.

د اروپا دعدالت محکمې دا جوته کړه چې دښځو او نارینو لپاره دمساوي چلند اصل په کلي ډول په عامه خدماتو کې د کارکولو په هکله دی او دهغو شرطونو تراغیزې لاندې نه راځي کوم چې دمثال په ډول دوسله والو ځواکونو دتشکیلاتو په هکله دي. د علی السویه چلند دستور د (۲)۲ مادې له مخې غړو هیوادونو ته دا اختیار ورکړل شویدی چې هغه وظیفوي فعالیتونه په کومو کې چې د هغو ماهیت او یا داجراأتو دڅرنګوالي له امله جنسیت یو ټاکونکی فکتور وي، ددې دستور له ساحې نه وباسي. مګر دا حکم باید په ډیره جدي او دقیقه توګه تفسیر شي. دا چې د وسله والو ځواکونو منسوبې ښځې کیدای شي دوسلې کارولو ته راوبلل شي، نظامي پوستونو ته د ښځو دنه منلو لپاره دلیل نشي کیدای. ځکه هغه ښځې چې حتی په طبي او نظامي موسیقي کې وظایف لري ټولې دنظامي تیارۍ په دوره کې دوسلې دکارولو لپاره روزل شویدي. دښځو دګوښه کولو لپاره هرډول ورته هڅه په حقیقت کې د تناسب داصل نقض کول دي.

<u>براون د رینتوکیل په وړاندې</u>، د اروپا د عدالت محکمه (جون ، کال ۱۹۹۸)

عارض چې یوه انګریزۍ میرمن وه د موټرچلوونکې په توګه استخدام شوې وه. دهغې دکار په قرارداد کې دا راغلي ؤ چې که چیرې هغه د ناروغۍ له امله د ۲۶ متداومو اونیو په ترڅ کې کار ته حاضره نه شي، نو له کاره ایستل کیږي. د ۱۹۹۰ کال د اګست په میاشت کې هغې خپل امر ته اطلاع ورکړه چې امیندواره ده. هغه د حاملګۍ ددورې دراپیداشوي اختلاط له امله له کار څخه د ۲۶ اونیو نه زیاته موده غایبه وه. دې میرمنې صنعتي محکمې ته عرض وکړ چې دهغې له کاره ایستل د ۱۹۷۵ کال د جنسي تبعیض د قانون پرخلاف ؤ. دهغې عرض په ابتدایي او مرافعه محکمو کې رد شو.

عارض وروسته د انګلستان د سنا مجلس ته مراجعه وکړه. دې مقام غوښتل دا جوته کړي چې آیا د حاملګۍ په دوره کې د ناروغۍ په اثر (کومه چې د حاملګۍ له سببه پیداشوې وي) په کار کې دغیابت له امله د یوې ښځې برطرفه کول، په داسې حال کې چې د قرارداد له مخې کارفرما له جنسي توپیر څخه پرته د غیابت له امله د کارګر د ګوښه کولو حق ولري، د علي السویه چلند ددستور له ۲ مادې (۱) فقرې او ۵ مادې سره مغایرت لري او که نه. د اروپا دعدالت محکمې څرګنده کړه چې د حاملګۍ په سبب دیوې ښځې برطرفه کول یوازې پرښځو باندې اغیزه کوي

نوځکه هم د علې السویه چلند د دستور له مخې دا یو مستقیم جنسي تبعیض دی. د حاملګۍ په دوره کې د حاملګۍ له سببه د راپیدا شوې ناروغۍ پر اساس د غیابت په دلیل له کار څخه ایستل هم یو تبعیض ګڼل کیږي. که څه هم د کار د قرارداد شرط په ښځو او نارینو باندې یو شان د تطبیق وړ ؤ، مګر د هغوی حالاتو تو پیر درلود، حاملګي یوازې پر ښځو باندې راځي.

(۳) د CEDAW د تړون د خپلخوښي پروتوکول د کارولو موارد

کمیټې د CEDAW د تړون ۱۱ مادې د خپلخوښي پروتوکول د احکامو سره سم د فردي شکایتونو او پلټنو د میکانیزم په برخو کې ارزیابي کړه.

رحیمه کیهان د ترکیې په وړاندې، د ښځو پرضد د تبعیض د له منځه وړلو د تړون کمیټه (آګست، کال ۲۰۰۵)

عارضه په یوه دولتي ښوونځي کې د دنیات او اخلاقو ښوونکې وه او له شپاړس کلنۍ څخه ئې راپدیخوا په دولتي پوهنتون کې د زده کړو او وروسته بیا په دوونورو ښوونځیو کې د کار په مهال څادر په سرکاوه چې ویښتان او غاړه ئې پټوله. د ۱۹۹۹ کال په جولای کې د ښوونځي اداري هغې ته د څادر په سرکولو له امله اخطار ورکړ او په عین وخت کې ئې معاش ورته کم کړ. رحیمې د دې مجازاتو په هکله محکمې ته مراجعه وکړه او دعوی ئې وګټله. وروسته د ښوونځي اداري شکایت وکړ چې هغې د خپلو ویښتو په پټولو سره د ښوونځي د سلیقې او کالیو له مقرراتو نه سرغړونه کړیده او په خپلو سیاسي او ایدیولوژیکي نظریاتو سره ئې په ښوونځي کې سوله، آرامي او د کار او هم اهنګۍ فضا ویجاړه کړیده. عارضې دا ادعا رد کړه او څرګنده ئې کړه چې که چیرې دا په همدې دلیل مجازات شي نو دا به د ملي او نړیوالو قوانینو او په تیره بیا د تبعیض د منع کولو، د کار، مذهب، عقیدې او انتخاب د آزادی له حقوقو څخه سرغړونه وي. دا میرمن د ۲۰۰۰ کال د جون په ۵ نیټه له کاره وایستل شوه. اداري محکمې او دولتي شورا ته د هغې شکایت هم کوم ځای ونه نیو.

دې میرمنې کمیټې ته عرض وکړ چې د څادر داغوستلو په دلیل له کار څخه د هغې ایستل د تړون د ۱۱ مادې سره سم د هغې د کار، مساوي او برابرو امکاناتو، د ترفیع، د کار د امنیت، د تقاعد او د مساوي چلند حقوق تر پښو لاندې کول دي. د ترکیې مقاماتو په ځواب کې یادونه وشوه چې دا شکایت د منلو وړ نه دی ځکه چې له کورنیو اصلاحي امکاناتو څخه استفاده نده شوی او داروپا د بشر د حقوقو شورا د تحصیل د حق په باب یوه ورته قضیه (سهینه د ترکیې په مقابل کې) لا پخوا څیړلې ده. کمیټې دا ومنله چې له کورنیو اصلاحاتو څخه استفاده نه ده شوې او شکایت د منلو وړ نه دی.

CEDAW/C/۲۰۰۵/OP.۸/MEXICO ،
دښځوپرضد دتبعیض دله منځه وړلو کمیټه (جون، کال ۲۰۰۴ )

دې کمیټې د خپلخوښي پروتوکول د ۸ مادې سره سم خپله لومړنۍ پلټنه د ۲۰۰۴ کال په جولای کې پای ته ورسوله.[۵] قضیه دښځو د اختطاف، وژنو او جنسي تیریود پیښو په باب وه چې د مکسیکو د چیهواهوا د ایالت د سیوداد خویریس په سیمه کې ترسره شوې وې. هلته دګڼ شمیر ښځو د وژنود پلټنو د نتایجو دنشتوالي له امله ددې جرایمو مرتکبین نه ؤ پیژندل شوي او د مکسیکو دبشر دحقوقو د کمیسیون د ۴۴/۹۸ نمبر تجویز سره سم ترعدلي تعقیب لاندی نه ؤ راغلي. د ښځوپرضد دتبعیض دله منځه وړلو کمیټې د مکسیکو پنځم نوبتي رپوټ څیړلی ؤ او پریکړه یې وکړه چې له مکسیکو څخه کتنه وشي.

د کمیټې دهیئت دکارله نتایجو څخه داڅرګنده شوه چې په دې سیمه کې د مکیلاګانو په جوړیدو سره چې اکثراً ښځو پکې کار کاوه یو ډیر شمیر ښځې په کار بوختې شوې. په داسې حال کې چې دنارینو لپاره د کار بدیل امکانات نه ؤ موجود. دې امر دښځو او نارینو تر منځ د اړیکو عنعنوي تناسب ویجاړ کړ. او دښځو په مقابل کې د دښمنۍ یوه فضا رامنځته شوه، خاصتاً هغه ځواني ښځې چې په مکیلاګانو کې یې کار کاوه.لکه څنګه چې دښځو په ټولنیز رول کې بدلون د دودیزه پلارسالارۍ د ذهنیتونو د بدلون سره همغږه نه ؤ او د سزا نه لیدلو کلچر لا ژوندی ؤ نو ځکه هم خبره د ښځو پرضد تشدد ته ورسیده. په نهایي تجویزاتو کې دا په ګوته شویده چې باید د CEDAW په تړون کې د ښځو مندرج حقوق په تیره بیا د کار حق تضمین شي او د هغوی د نارینو له غچ اخیستنې نه وژغورل شي.

[۵] http://www.un.org/womenwatch/daw/cedaw/cedaw۳۲/CEDAW-C-۲۰۰۵-OP.۸-MEXICO-E.pdf